# پښتو او پخوانۍ آريايي ژبې

## او د ځينو لغاتو مقايسه او پرتله

په تېرو ګڼو کښې مې د تاريخ او مقايسوي ژب پوهنې له رويه پښتو له سنسکريت او اوستا سره څه نه څه مقايسه کړه او د دغو ژبو يو له بله سره نژدېوالي مې وښود، په دې مقاله کښې پښتو له دوو نورو پخوانو ژبو سره پرتله کوم، چې هغه ميدي ژبه او د فرس قديم ژبه ده، دا ابحاث ټول د پښتو ژبې د ادبي تاريخ برخې دي، چې بېل به د کتاب په ډول هم نشر سي.

(حبيبي)

**پښتو او ميدي ژبه :**

لکه چې ښکاره ده مديان يا ماديان آريائی خلک وه، چې د قبل المسيح د اوومې پېړۍ په ابتداء کښې دوی په غربي ايران کښې يو سلطنت جوړ کړ، مؤرخين وايي چې دا خلک تر مسيح لس پېړۍ دمخه هلته تللي وه. (۱) په دې مبحث کښې زه نور له دغه (ماد) قومه سره اړه نه لرم، خو ځکه چې دوی هم قديم آريائی اقوام دي او ژبه ئې هم پسله اوستا څخه قديمه آريائی ژبه ګڼله کيږي نو ښائي چې د ژبې د قدامت له پلوه د پښتو سره تطبيق کړه سي.

ډار مستتر وايي : چې اوستا هم لومړی په مادي ژبه نوشته سوې وه، او دغه مادي ژبه له پخوانۍ پارسو (Old-Persian) سره ډېره نژدې وه، او اوسنۍ کردي ژبه هم له مادي ژبې څخه مشتقه شوې

ده (۲) ځکه چې دغه میدي اقوام هم پسله عمومي هجرته چې آریائیانو له باختره کړي دي د ایران په اورشو ګانو کښي سره خپاره سوي دي نو ښائي چې د دوی په ژبه کښي هم باختري آثار وي.

متاسفانه له میدي ژبي څخه موږ ته اوس څه نه دي پاته چې هغه له پښتو سره مقابله کړو، فقط هیرودوت د مؤرخینو پلار له دغي ژبي څخه یوه کلمه ضبط کړې ده او هغه سپاکه (Spaca) ده چې د سپې (Bitch) معنی لري. (۳)

ګریرسون وايي : چې میدي ژبي د ایران شرقي خوا کښي ویلي کېدې، نو ځکه دی د پامیر او د هندوکش د جنوب ژبي لکه: غلجه، اورمړي، بلوڅي او پښتو ټوله په میدي ډله کښي داخلوي، چې د ده په اصطلاح نن پرشک (Non-persic) ژبي دي. د دغو ژبو نژدېوالی هم له دې خبرو څخه ثابتوي، چې په اورمړي ژبه (Spuk) او په پښتو سپی (Spac) هغي یوې کلمې ته چې له میدي ژبي څخه پاته ده ډېر نژدې دي، حال دا چې په پهلوي او پارسي ژبه ئې سګ (Sag) بولي چې له میدي څخه لیري ده (۴) که د میدي ژبي نور کلمات او الفاظ اوس موجود وای نو به د پښتو مطابقت له دغي زړې ژبي سره ښه ښکاره سوئ وای خو دلته پر دغه یوه کلمه اکتفاء وسوه چې د پښتو سره نژدېوالی لري.

**پښتو او زړه پارسي (فرس قدیم) :**

د مؤرخینو په اصطلاح زړه پارسي یعنی فرس قدیم (Old-Persian) هغه ژبه ده چې پخوا په خاص ایران (پارس) کښي ویله کېده او د هخامنشي دورې رسمي ژبه وه او دفاتر او ډبرلیکونه ټول په دغه ژبه دي، پاچهانو په دغه ژبه خبري کولې، مګر اوس د دغي ژبي آثار بېله ځینو لیکونو چې پر ډبرو باندي پاته دي بل څه نسته (۵) له دغو لیکونو څخه د ژبو پوهانو فقط د زړې پارسي (۴۰۰



الفاظ موندلي دي چې په میخي خط کښلي سوي دي (۶) زړه پارسي زند ژبي ته ډېره ورته ده، لکه زند (۲۴) توري لري اما لږ څه تر زند ساده ده په دغه ژبه چې ډبرلیکونه په ایران کښي سته د هخامنشي دورې د مؤسس کوروش (۵۵۹ _ ۵۲۹ ق، م) له عصره شروع کېږي او په درو څلورو ژبو په میخي خط کښلي سوي دي یعني یو مطلب هم په زړه پارسي هم په آسوري هم په عیلامي ژبه نوشته سوئ دئ. (۷) که څه هم زړه پارسي له پښتونخوا څخه لیري په پارس کښي پیدا سوې وه او باید له پښتو سره ډېره نژدې نه وي مګر بیا هم ځکه چې ریښې ئې له اوستا سره نښتي دي او د باختر له سرچینې څخه اوبه خوړ مومي نو به ضرور لغوي قرابت سره لري. په لاندي کرښو کښي زه د زړې پارسي یو څو کلمات له پښتو سره مقابله کوم کوم چې له هغې زړې ژبي څخه اوس پاته او ماته معلوم دي، له دغي مقایسې څخه به ښایي د قدیمو ژبو د پښتو سره روابط تاسو ته ښکاره سي :

(۱) اورمزد : چې په اوستا کښي اهوره مزدا دئ چې لومړی جزو ئې د پښتو (اور) دئ. د ایران د زړې پارسي په ډبرلیکونو کښي هم (اورمزد) ضبط شوئ دئ (۸) او مزدا ماده له لمنځلو څخه ده، چې نمنځنه او لمانځل ئې مستعمل لغات دي.

(۲) من : یعنی (آدم ، سړی) (۹) چې د دغي کلمې ریښه په سنسکریت او ویدا کښي د (منو) په کلمه کښي ده چې عمومي معنی ئې (آدم) ده او پښتو کښي تر اوسه هم ژوندی ده مانو سړي ته وايي، او د منلو د مصدر ریښه هم دغسي ده.

(۳) آبي : یعنی (اوبه، آب) چې د سنسکریت او د اوستا نومونه هم ورنژدې دي. (۱۰)

(۴) هو : يعنی (ښه) چي په سنسکريت کښي (سو) دئ او د پښتو هجابي (هو) اوس ژوندی کلمه ده.

(۵) دروکا : يعنی (دروغ) چي په اوستا کښي (درواغه) او په سنسکريت کښي (دروه) او پهلوي کښي (دروغ) وه (۱۱) په اوسني پښتو کښي درواغ او دروه دواړه ژوندي دي.

(٦) وسپا : يعنی (اسپ) چي په سنسکريت کښي (اشو) او په اوستا کښي (اسپه) او په اوسني پښتو کښي (آس او اسپه) ده.

(۷) پوترا : يعنی (پسر) دا کلمه د استخر د داريوش په کتيبه کښي د زوی په معنا راغلې ده (۱۲) چي په اوستا کښي هم (پوتهره) او په سنسکريت کښي (پتره) او په پهلوي کښي (پور = پوس = پوش) وه (۱۳) د پښتو (پوت) هم په دغه معنا دئ چي د خوشحال خان په يوه بيت کښي د زوی په معنای راغلئ دئ دی وايي : (چي د پلار په بدگوئي سر ئې پوت ـ الخ)

(۸) پيسو Pisu : يعنی (پيس) دا کلمه په پښتو هم تر اوسه (پيس) ده چي په عربی دا مرض (برص) بولي، او په اوستا کښي (پسيسه) او په پهلوي کښي (پسک) وه. (۱۴)

(۹) پمون (Pamon) : يعنی (گرگ) چي اوس په پښو کښي هم يعنی "گرگ: او پمن گرگين سته.

(۱۰) نامکا (Namka): يعنی (نام) دا کلمه په سنسکريت کښي (نامن) او په اوستا کښي (نامن) او په پهلوي او پارسي کښي (نام) ده په پښتو کښي ئې (نوم) بولي، په زړه پارسي کښي (نامکا) وه په هخامنشي کتيبو کښي د يوې مياشتي نوم (آنامکا) وُ يعنی (بې نومه). (۱۵) (۱٦).



## لمن ليکونه

(۱) ايران قديم ص ۳۹
(۲) ايرانی مطالعات
(۳) د هيروډوت جغرافيا ص ۲۸۹
(۴) لنگوستيک سروی آف انديا ـ ج ۱۰ ص ۲ـ۳
(۵) د ايران د ادبياتو تاريخ ـ ج ۱ ص ۱۴۰
(۶) د شفق تاريخ ادبيات ايران ص ۴
(۷) د همائی تاريخ ادبيات ايران ـ ج ۱ ص ۱۳۸
(۸) آثار العجم
(۹) آثار العجم
(۱۰) آثار العجم
(۱۱) فرهنگ نظام ـ ج ۳ ص ۴۵
(۱۲) نمونهٔ ادبيات ايران
(۱۳) فرهنگ نظام ـ ج ۲ ص ۱۲۴
(۱۴) فرهنگ نظام ـ ج ۲ ص ۱۵۱
(۱۵) تاريخ عمومي عالم ص ۳۷۷ ـ ج ۱
(۱٦) کابل مجله، ۱۳۲۴ لمريز کال، ۹ مه گڼه، ۱ ـ ۲ مخونه.